غ. حضرت

۲۰۱۶/۱۲/۱۹

# د ښاغلی داکتر لطیف یاد سره ګډه اوښکه تویونه

تېره ورځ په همدې ښکلی سایت کی د ښاغلی داکتر صاحب لطیف یاد په غښتلو ګوتو یوه ښکلې او په عین وخت کی زیږه او غلې کوونکې لیکنه چې د ښاغلی صبور سیاه سنګ د پاروونکې لیکنی په وړاندی لیکلې شوی وه، زما او ما غوندی کنجکاو لوستونکو پاملرنه ځانته واړوله.
په داسی حال کی چې د لطیف خان یاد صاحب په زړه پوری او علمی لیکنه ستایم، غواړم څو وړوکی ټکی د همدې ښاغلی پر لیکنی ور زیات کړم:

## لومړی ټکی:

زما په ګمان، ښاغلی صبور سیاه سنګ د فیس بوک په نوم په یوه وړوکی کوټه کی دا وړوکې باد پرېګنه تر سره کړې ده چه شاید د ګوتو په شمېر لیدونکو او اورېدونکو پزه ئې د سرګردانی او عذاب سره مخامخ کړې وی، خو ښاغلی یاد صاحب دا وړوکې کړکی خلاصه او د صبور خان لخوا شیندل شوی آزاروونکی بوی ئې د سایټ او سایټونو لویو او عمومی کوټو ته د اِفشاء او رسوائی بخاطر ور هدایت کړ. که څه هم ددې کار مثبت اړخ دا کېدای شی چه د صبور غوندی څېرو پټ او ناولی نیتونه ئې په ډاګه کړه خو منفی اړخ ئې دادی چه صبور خان د وېری او ډار څخه د فیس بوک د تنګی کوټی نه بهر خپل دا شوم نیت نشوای بیانولای خو اوس ورسره مرسته ! وشوه او دا نیت ئې بیان شو چه البته دا به ددې معنی ونلری چه د ډاکټر صاحب لطیف خان د پاکو احساساتو د ځرګندونی ستاینه ونشی.

## دوهم ټکی :

د صبور خان په خام ګمان، رحمن بابا د حافظ شیرازی د شعرونو په غلا متهم! شویدی چه په ځواب کی یې لطیف خان یاد قناعت بخښونکې لیکنه تر سره کړېده.

## دریم ټکی:

ستر ستر شاعران د انسانیت د کتاب ربښتنی مفسرین دی، په ځانګړی توګه زموږ د سیمی ( پښتو او فارسی) ستر شاعران حتی د قرآن منظوم مفسرین دی چه کولای شو په ډېر جرئت ووایو چه سعدی او رحمن بابا اصلاً آسمانی شاعران دی چه انسان ته د انسان په ژبه ږغېدلی دی.
لکه څنګه چه د یو مفسر تفسیر د بل مفسر سره په کمی او ظاهری او حتی کیفی توګه توپیر لری همدارنګه د شاعرانو تفسیر او ترسیم او تنظیم هم فرق سره لری. که څه هم د ستر شاعر پلاس کی چِلم او صنم او شبنم او زیر و بم لیدلی کیږی خو هر یو ځانته جلا
الفاظ کارولی دی چه البته په معنائی او معنوی تګلیاره کی ئې کوم بنستیز توپیر نه تر سترګو کیږی

## دریم ټکی:

د ښاغلی صبور له وینا داسی ښکاری چه نوموړی نه حافظ شیرازی په ژوره توګه پېژنی او نه رحمن بابا.که ئې پېژندلای نو دا بې بنسټه لیکنه به ئې وای وړاندی کړی.
د رحمن بابا د افکارو هندسه د حافظ صاحب د افکارو او بیان د هندسي سره ډېر توپیر لری.د رحمن بابا عقاید او افکار په فارسی ژبو تکړه شاعرانو کی د سعدی صاحب فضاء ته ډېر ور نژدې او حتی ورته او شبیه دی تر حافظ صاحب.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

بله داچه د رحمن بابا شخصیت په مستقیمه توګه د هغه د شعر او افکارو ترجمان او ممثل دی. هر هغه څه چه ئې تر مبارکی خولې را ایستلی دی هغه ټول ئې په خپل ځان کی روزلی او عملی کړیدی او یوازنی او لومړنی او وروستنی شاعر دی چه ددې لوړی ځانګړتیا درلوونکی دی بناً داسی ښکاری چه د صبور خان درد او فریاد د کوم بل نفسانی او غیر طبیعی زخم او ټپ زیږنده ده که نه ځنګه ځان ته ددې ګوستأخی او جسارت اجازه ورکوی چه یو ملنګ او فقیر او په واقعیت کی غنی ترین انسان ته د فرهنګی غله خطاب کوی.

موږ ته ټول ستر ستر شاعران حتی د مغرب زمین ستر شاعران د قدر وړ دی او حتی دا اجازه ځان ته نه ورکوو چه د هغوی د اشعارو د حقانیت په هکله شک او تردید او دښمنانه تبصرې وکړو او ښاغلی صبور دا ټکی له پامه غورځولی دی چه یو غل زرګر کولای شی د طلا امېل یا وښئ یا ګوتمۍ ته د خپل هنر په مرسته د شکل بدلون ور وبخشی خو یو غل که هر څومره ماهر هم وی وبه نشی کولای چه د یوې ښکلې هوسۍ پوست د یو ښکلی طاؤس په بدن ور واغندی یا وګنډی او که دا کار هم تر سره کی د ټول عمر د غلا بد صفت ئې په همدې یوه ښکلی هنر مندانه صفت محو کېدای شی.

داچه یو پښتون ژبی ستر شاعر د یو فارسی ژبی ستر شاعر څخه ځنګه غلا تر سره کوی، یوازی او یوازی د صبور خان د وجدان او عقل څارنوالی ددې تورونو د لګیدو جرئت او قدرت درلودای شی او بس.

نن ورځ زموږ ټولنه په هر ډګر کی څه ټولنیز څه اقتصادی څه فرهنګی څه فکری څه روحی څه قومی او سمتی، خُلاصه هر ډګر کی د ډېرو پټو او ښکاره، خودخواسته او نا خواسته درنو او ویجاړوونکو توطئو سره لاس او ګرېوان ده. څوک نه پوهېږی او په رشتیا هم ددې تریخ واقعیت درک ډېر سخت کار دی چه پوه شی چه ددې پټو توطئو د اجراء په ګنج او بازار کی زموږ د هر یوه ونډه څومره ده او همدارنګه پر دې مسئله هم یوه ملی اجماع او وحدت نلرو چه ومنو چه پدې سپک بازار کی زموږ د رغونی او ملی حوصلې او تعامل او تحمل ونډه څومره ده، خو پدې ټکی موږ هر یو پوهېږو چه دا مختلفو فرهنګونو او سیمو او قومونو ډېری معدودی او کمی کړۍ دی چه نن سبا ئې د ملی اتڼ خلاف د نغمې شپیلۍ په شونډانو کی نیولې او دداسی ساز ږغولو ته ئې نفس را نغښتۍ دی چه د اکثریت شریف ؤلس د خواشینی او پاکو هیلو د زخمی کېدو سبب شویدی.

د رحمن بابا او سعدی صاحب او حافظ او مولانا رښتینی لارویان به هیڅکله ددې معدودو او معلومو او احتمالاً مزدورو څېرو خیرنو کړنو ته تسلیم نه شی.

هغه څوک چه په کومه منفی او تلبیسی انګېزه د حافظ یا مولانا یا سعدی د دفاع پنوم د رحمن بابا په غندلو د خپل هیوادوال او وطندار زړه څوروی باید پدې پوه شی چه مخکی لدې چه د رحمن بابا دښمن وی د حافظ او سعدی دښمن دی او همدارنګه هر هغه څوک چه د رحمن بابا او یا خوشال خان بابا( چه البته زما په نظر د ټُرو او ځُرو سمبول فقط همدا دوه دی البته زموږ په فرهنګی جغرافیه کی) د ددفاع پنوم په ادبی او فرهنګی او حتی قومی ډګر کی تر خولې چِعلی او تقلبی ملغری را باسی ،مخکی لدې چه د حریف حریف وی د رحمن بابا او خوشحال خان حریف ګڼل کېدای شی.

په آخر کی غواړم پر یوې بلی موضوع هم لږ غوندی رڼا واچوم چه البته د پورتنی موضوع سره تړاؤ نلری.

څو ورځی مخکی زموږ درونډ او ګران وطندار ښاغلی م.د.مومند صاحب د خپلی خوږې لیکنی په ترڅ کی یوه خوږه ګیله کړې وه چه خوشحال خان خټک هم باید رحمن بابا غوندی " بابا" وبلل شی .د نوموړی دا ګیله او غوښتنه شاید ډېره پر ځای وی او د قلم او فرهنګ د ډګر صلاحیت لرونکی اشخاص باید دا مسئله په غور وڅیړی خو زه دومره وایم چه زما غوندی ماشومانو ته شاید هر بُډا او درونډ مشر د بابا حیثیت ولری خو د ماشومتوب له امله می یو ماشوم غوندی د ټوکرانو ګیند او ټوکرانو ناوکۍ او د ختو موټر ډېر خوښېږی تر یو توری او توپک.

خوشحال خان خټک د توری او قلم څښتن ؤ، شاید په مستقله توګه یو درونډ انسان ؤ خو په مقایسوی توګه د رحمن بابا په پرتله درونډ انسان نه ؤ.

خوشحال خان خټک یو سکندر ؤ او رحمن بابا یو قلندر.

د سکندر تر فلزی جامو لاندی دیارلس زره پټ اسرار او رمزونه نغښتی دی خو د قلندر تر نازکو او ساده جامو لاندی فقط د قلندرۍ یو ساده فورمول نغښتی دی.

په ادبی او شخصیتی لحاظ ، خوشحال خان یو ستر هنرمند ؤ او رحمن بابا یو ساده او مخلص خو سترروحانی.

د یو روحانی فضیلت د هنرمند په پرتله دادی چه یو روحانی کولای شی ( البته زموږ د فرهنګ او کلتور د ونی په سیوری کی) چه هم د خوښی په مراسمو (مثلاً کوزده او نکاح) کی فعاله او مهمه ونډه ولری او هم د غم او خفګان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په مراسمو کی، خو یو هنر مند نشی کولای او اجازه نلری چه د غم او خفګان په مراسمو کی د ګډون په ترڅ کی د ځان سره خپله طلائی حنجره او نقره ای طُبله او ژړین رباب ملګری کړی.
لنډه دا چې که موږ د خوشحالخانی - سکندری برم او دبدبې او روحئې له برکته د انګریز او روس او نورو استعمارګرانو په وړاندی د وطنی سپیڅلی بریالی جګړې د ویاړونو د تشخیص او تملُک تر څنګ د رحمن بابا قلندری ظاهری او باطنی جامی اغوستی وای او یوازی مو په سکندری او توپکی او شمشیری غرور او تکبر ځانونه نه وای غولولی او قلندری ولولې ته مو شا نه وای ورګرځولې شاید نن ورځ مو د توری شرنګ د قلندری ترنګ سره عجین او دومره نه وای ډیوالی شوی.

همدومره. په ډېره مینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ